مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۰/۰۶/۲۷

# سولي ته

تـا ته مـونـږ سترګي پـه لار يو ته راځي که نه راځي
بی صبرۍ کـې انتـظار يـو ،ته راځې که نه راځـي
مبارک قـــدم دې کـيـږده، د غـمـجنو په لـيــــمو
قـدمو څـخـــه دې ځـار يو ، تـه راځـي که نه راځي
دَم پـه دَم مــو راتشــــيږي ، د صــبرونـو پيماني
ستا راتلـــو تـه په تـلوار يو ، تـه راځې که نه راځـي
زمـانـي هـومـره ويشـــتلي ، په کــــانو د جفـا يو
کـړيـدلي لـه روزګار يو، تــه راځـــــي که نه راځي
ډير کلونـه شــــول چي سـوځو، پـه لمبو کې د فراق
د بيلتون ځينــــې ، بيزار يو، ته راځې که نـه راځـي
له حالاتـو نه مو ساه، رســــيدلي ده تـر ســــتوني
د منصور غوندي ، په دار يو ، ته راځې که نه راځي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ